## *د افغانستان د دولت ملي بودجه*

د افغانستان ملي بودجه د هیواد د ټولو وګړو لپاره ګټوره ده، ملي بودجه په ګوته کوي چې:

- دولت په راتلونکي کال کې د کوم شي د ترلاسه کولو هڅه کوي. کیدای شي فیزیکي محصول ( لکه ښوونځي یا سرکونه) او یا خدمتونه وي ( لکه پوهنه یا امنیت).
- دولت د نوموړو توکو او خدمتونو د تر سره کولو لپاره څومره پیسي مصرفوي.

*د دي لپاره چي و پوهیږو چي څرنګه دولت د ټولو هیوادوالو لپاره د یوه خوندي او غوره هیواد په رامنځته کولو کي مرسته کوي، **ملي بودجه** یې د پوهاوي لپاره تر ټولو غوره او مهمه لار ده.*

*مونږ تقریباً بی کچه پرمختګ، توکو، خدمتونو او امنیت ته اړتیا لرو، خو د هغوې په وړاندې د ګوتو په شمیر او محدودې سرچینې لرو.*








*دا په دې معناده چې مونږ باید د لګښتونو د لومړیتوب د ټاکلو په برخه کې سختې پریکړې وکړو.*

*د بودجې پروسه هر کال د محدودو سرچینو د اولویت بندې په موخه د لاندې دیاګرام سره سمه تر سره کیږي*




**مونږ د ټولنې تبصرو او نظریاتو ته ښه راغلاست وایو، په ځانګړې ډول چې پوښتنې یې په لاندې ډول وي:**

- آیا دولت په اغیزمنه توګه د هیواد د پرمختګ او امنیت د ټیکاو په موخه پیسي مصرفوي؟
- آیا مونږ په مسؤولانه ډول لګښت کوو تر څو مو هیواد په دیرو پوروونو کې ډوب نشي؟
- آیا وزارتونه او اداري د بودجي هغه اهداف ترلاسه کوي چي د ترلاسه کولو ژمنه یي کړې؟
- آیا بودجه په منصفانه ډول ترتیب شوې، د دې باوري کول چي د هیواد په کچه د ټولو وګړو سره مرسته شوې او کنه؟

*راتلونکي صفحه دهغه اسنادو په اړه لارښودتکي رانغاري چي له مخې یې د ملي بودجي او هغه معلوماتو ته لاسرسي موندلای شئ چي پیسي په کومو ځایونو کي مصرف شوي دي.*

*د لا زیاتو معلوماتو لپاره <u>www.budgetmof.gov.af</u> ویب پاڼه وګورئ*

**د ماليي وزارت د ملي بودجي د ټولو اسنادو د لاسرسي لارښود ټول اسناد په**
**- www.budgetmof.gov.af موجود دي -**

*د ماليي وزارت د دولت يوه مرکزي اداره ده چي مسؤوليت يي د افغانستان د دولت د ملي بودجي جوړول او پلي کول دي. نوموړې اداره د کال په اوږدو کي د ملي بودجي په اړه يو لړ اسناد خپروي. هغه اسناد چي د راتلونکي کال په اوږدو کي خپريږي، په لاندې ډول بيان شوي دي.*

| د ۱۳۹۰ کال د بودجي اسناد | د خپريدو نيټه | محتويات او هدف |
|---|---|---|
| د ۱۳۹۰ کال د بودجي شرحه | سلواغه ( فبروري) | د **بودجي شرحه د ملي بودجي** تر ټولو لوی او مهم سند دی چي د دولت لخوا ولسي جرګي ته سپارل کيږي. ملي بودجه د دولت د لومړيتوبونو او پاليسيو د پلي کولو لپاره اساسي آله ګنل کيږي. نوموړی سند څرګندوي چي څرنګه دولت د بودجي د تمويل لپاره عوايد تر لاسه کوي، په کوم ځای کي يی مصرفوي او کوم خدمتونه او پرمختيايي پروګرامونه برابروي. |
| د ۱۳۹۰ کال د بودجي وينا | سلواغه ( فبروري) | د **ماليي د وزير وينا** ده چي د دولت لخوا ولسي جرګي ته د وړانديز شوي بودجي د تصويب په موخه يي ولسي جرګي ته کوي. |
| د ۱۳۹۰ کال د بودجي فرمان | غويي ( اپريل ) | د **بودجي سند دی چي د ولسي جرګي لخوا تصويبيږي**. نوموړی سند په ګوته کوي چي د دولت هره اداره د لګښت لپاره څومره پيسي په واک کي لري. |
| د ۱۳۹۰ کال د وطنوالو بودجه | غويي ( اپريل ) | د **ملي بود جي سهل الفهمه لنديز** چي د ولسي جرګي لخوا تصويبيږي. نوموړی لنډيز په ګوته کوي چي عامه بسپني په کومو ځايونو کي مصرفيږي او په پايله کي به يي کومي پروژې او خدمتونه تر لاسه شي. |
| د ۱۳۹۰ کال د بودجي مالي جريدې | هره مياشت او ربعه | دا ډول **منظمي جريدې** د افغانستان د ملي پرمختګ د ستراتيژۍ د پلي کولو بررسي کوي او د عوايدو او لګښتونو د تغيراتو ارزونه تر سره کوي. دوی د ملي بودجي د توقع سره سم عوايد او لګښتونه پرتله کوي. |
| د ۱۳۹۰ کال د بودجي د کال منځنۍ کره کتنه | تله ( اکتوبر ) | د **ملي بودجي د نيمايي کال بررسي،** بنايي دولت پريکړه وکړي چي د حالاتو د بدلونونو او نوو لومړيتوبونو سره سم په بودجه کي تعديل رامنځته کړي. نوموړی سند هم ولسي جرګي ته د تصويب په موخه وړاندي کيږي. |

| د ۱۳۸۹ او ۱۳۹۱ مالي کلونو لپاره نور بودجوي اسناد | | |
|---|---|---|
| کلني مالي راپور ( ۱۳۸۹) | غبرګولی (جون ) | **کلني مالي راپور** د کال د پای ته رسيدو څخه لږ موده وروسته نشريږي. نوموړی سند د ملي بودجي د پلي کولو نا تصفيه شوي راپور دی. |
| د پرمختګ د همکاری راپور (۱۳۸۹ ) | غويي ( اپريل ) | د **همکاری د پرمختګ راپور (DCR)**، هر کال ترتيبيږي او په افغانستان کي د بهرنيو مرستو په اړه جامع معلومات احتوا کوي. نوموړی راپور د مرستو د جريان پخوانۍ، اوسني او راتلونکي ارقامي معلومات رانغاړي او ټولي هغه مرستي خلاصه کوي چي د هر ډونر څخه تر لاسه کيږي. همداراز د اهدافو د ترلاسه کولو په برخه کي د مرستندويانو د مرستو د بريالیتوب ارزونه تر سره کوي. |
| د بودجي مهالويش (۱۳۹۱) | غويي ( اپريل ) | د **بودجي مها لويش** د دولت ادارو ته د بودجي د جوړولو مهالويش او د پای نيټه په ګوته کوي. همداراز د راتلونکي مالي کال لپاره د بودجي د اسنادو د خپريدو نيټه په ګوته کوي. |
| د بودجي ماقبل راپور (۱۳۹۱) | وږی ( سپټمبر ) | د **بودجي ماقبل راپور** د راتلونکي مالي کال لپاره د دولت د پاليسي لومړني سند دی. نوموړی سند د راتلونکي کال لپاره د دولت لومړيتوبونه بيانوي او دولتي ادارو ته د بودجي حدود ور په ګوته کوي چي تر کومه حده پوري اجازه لري او کولای شي د ماليي وزارت څخه د بودجي وړانديز يا پيشنهاد وکړي. |

**د لا زياتو معلوماتو، نظرياتو او يا د دي اسنادو د کاپيانو د ترلاسه کولو لپاره د ماليي وزارت د پاليسي او اصلاح بودجه رياست سر پرست ښاغلي ضياء الرحمان حليمی سره په لاندي آدرس اړيکه ټينګه کړئ. تيليفون:** *+93 77 8292470 ايميل:*
ziahaleemi@gmail.com